# د خیبر پښتونخوا پولیسو په اسلام اباد کې د ترهګرۍ پلان ناکامه کړ







د خیبرپښتونخوا پولیسو د صوابۍ په مضافاتو هند کې د معلوماتو پر اساس عملیات ترسره کړل. دوه تنه ترهګر قوماندانان چې د (0.2 ملیون) تروریست اظهر هم پکې شامل دي وژل شوي او 4 تنه نیول شوي دي۔

ترهګرو د لویو تروریستي فعالیتونو د ترسره کولو پلان حتمي کړی و۔ د خیبرپښتونخواه پولیسو چټک او پر وخت غبرګون پلازمینه له ناورین څخه وژغورله۔

له ترهګرو څخه د وسلو او مهماتو یوه لویه زېرمه چې 5 کیلوګرامه چاودېدونکي توکي، 9 لاسي بمونه، 18 الکترونیکي وسایط، 2 کلاشینکوف او بېلابېل توکي چې ویل کېږي په ترهګریزو فعالیتونو کې ترې کار اخیستل کېږي، ترلاسه شوي دي۔

د عملیاتو پر مهال ټول پولیس خوندي پاتې شول۔

د خیبرپښتونخوا پولیس یو ځل بیا د ترهګرۍ ختمولو او قربانۍ ورکولو ته خپل عزم څرګند کړی دی۔

مورخہ: ۱۲ رجب ۱۴۴۴ ھ | ۴ فروری ۲۰۲۳ء